**د اکرون دولتي ښوونځیو زدکوونکو/والدینو، کورنیو/د ټولني غړو!**

**په خراب موسم او بیړني حالت کي د ښوونځیو د بندېدلو پروسه – 2023-2024 تعلیمي کال**

په سختو بیړنیو حالاتو کي دا اړینه ده چي د ښوونځیو ودانۍ وتړل شي او د هماغي ورځي زدکړه لغوه شي یا وختي زدکوونکي رخصت کړل شي. په دغسي حالاتو کي لاندي پروسه مخته وړل کیږي:

**د ښوونځیو تړل/د رخصتۍ اعلان:**

که د خراب موسم یا یو بل بیړني حالت په خاطر ښوونځي رخصت شي، نو د رخصتېدو یو اعلان به د سهار تر 6:30 بجو پوري په سیمه ییزو ټلویزیونونو (چینلونه 3-5-8-19-25)، سیمه ییزو راډیوګانو، د اکرون د معارف ریاست په ویبپاڼه (www.akronschools.com) او ټولنیزو رسنیو کي خپور شي. ټولو زدکوونکو، کورنیو او کارکوونکو ته دا اعلان د All-Call په توګه د معارف د ټیلیفوني سیسټم له لاري استول کیږي. **اړینه ده چي موږ ستاسو دقیق ټیلیفون شمېرې او ایمېل ادرسونه ولرو تر څو ستاسو سره اړیکه ونیسو.**

په داسي حالاتو کي باید زدکوونکي ښوونځیو ته ولاړ نه شي، بلکي په کورونو کي پاته شي. پخوا د ښوونځیو مدیران د والدینو د دقیقو شمېرو د نه لرلو له امله مجبور ول چي ښوونځیو ته ولاړ شي او که کوم شاګردان راشي نو دوی به یې له رخصتۍ څخه خبر کړي. لطفاً د اړیکو شمېرې او معلومات له ښوونځیو سره شریک کړئ. **سږ کال د ښوونځیو د بندېدو په صورت کي به هیڅوک نه وي چي مرسته درسره وکړي.**

د اکرون دولتي ښوونځیو له ځانګړو کارکوونکو سره به د اړتیا په صورت کي د خپلو مستقیمو مشرانو/سوپروایزرانو له خوا اړیکه ونیول شي.

**وختي رخصتېدل**

که مخکي تر دې چي تعلیمي ورځ پای ته ورسیږي؛ د ښوونځي د ودانۍ تړل اړین وګڼل شي نو:

راډیوګانو یا ټلویزیونونو ته خبر ورکول کیږي او د All-Call سیسټم له لاري 90 دقیقې مخکي کورنیو ته د وختي رخصتۍ زنګ وهل کیږي.

کوم زدکوونکي چي د والدینو له خوا بېول کیږي یا په کور کي د ښار څوک ونه لري، نو د هغوی لپاره به ځانګړي کارکوونکي موجود وي تر څو د کورنیو د غړو له خوا بوتلل شي. د ښوونځي کارکوونکي به تر زدکوونکو 30 دقیقې وروسته رخصت شي.

11/01/2023